فرهاد ویاړ

۰۹-۰۹-۲۰۰۹

## "آزادی"

دوه اويا مياشتي
بمونه
توپونه
شپږ سوه اوه ميليارده ډالره
جګړه
هره ورځ
دوه ميليونه بيرله تيل
لوټ.

دوه ميلونه ستركي لالهانده
په بصره كي
په نجف كي
دري ميليونه عراقي
نه ټاټوبي
نه هيواد
كټ مټ زما د ټاټوبي په شان.

دوه زره شپږ سوه پنځلس
پروفيسران
دانشمندان
او ډاكټران، مړه
دري سوه اته ديرش خبريالان
شونډي ترلي
ديارلس ميليارده ډالره غلا
كټ مټ زما د ټاټوبي په شان.

څلورسوه ميليارده ډالره
د نجف
بصرې
كركوك
او د عراق د بنسټونو لګښتونه!!!

بريښنا، يوازې درې ساعته
هر مياشت
د سرك غاړې ۲۴ بمونه
كټ مټ زما د ټاټوبي په شان.

اوه لويې مافيا د عراق واكمنه
او هر كال د وبا لس زره بيلګې
د هر چا ۵۰ ملګرې
۲۲ خپلوان
وژل شوې
كټ مټ زما د ټاټوبي په شان.
شپږ كاله "آزادى"
يو ميليون درې سوه زره مړه عراقې
هو،
"آزادى"
كټ مټ زما د ټاټوبي په شان.